# د مُفتي فاروق

## بنکلي اوصاف

**25-July-2024**



هفته وار د سُنّتو ډکه اجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(for Islamic Brothers)

پۀ 25 جولائي کال 2024ء (18 مُحَرَّم شریف، 1446ھ) د پاکستان پۀ هفته وارو
اجتماعاتو کښې کېدونکے بیان

# د مُفتي فاروق ښکلي اوصاف

پۀ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- د نیکانو خلقو اهمیت او فضیلت
- د تِلاوت ثوابونه
- د بد نظرۍ نه د بچ کېدو فضیلت
- د یرقان روحاني علاج

پیشکش
اَلْمَدِیْنَۃُالْعِلْمِیَۃ
Islamic Research Center
(شعبه : بیاناتِ دعوتِ اسلامي)
**For Feedback**:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف

(ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

**د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ (یعني د زیارت په ورځ د نمر پریوتو نه تر د جُمعې د ورځې د نمر پریوتو پورې) په ما باندې د دُرُودِ پاک کثرت کوئ! خوک چې داسې کوي، د قیامت په ورځ به زۀ د هغۀ ګواهي ورکووم او شفاعت به یې هم کووم-[1]

تمنّا ہے فرمائیے روزِ محشر
یہ تیری رہائی کی چِٹّھی ملی ہے
شفاعت کرے حشر میں جو رضاؔ کی
سوا تیرے کس کو یہ قُدرت ملی ہے[2]

**وضاحت:** یا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! خواهش دا دے چې د قیامت په ورځ کله حاضري وي نو تاسو ووفرمایئ: اے رضاؔ! ستا د پاره دا د دوزخ نه د ازادۍ چیټۍ میلاو شوې ده-

[1]... شُعَبُ الْاِیْمَان، باب فی الصلوات، جلد:3، صفحه:111، حدیث:3033۔
[2]... حدائقِ بخشش، صفحه:188 ملتقطًا۔

اے خوږه محبوبه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! د رضا شفاعت هُم ستاسو کار دے، ستاسو نه علاوه چا ته هم دا طاقت نه دے ورکړے شوے-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د بیان اوریدلو نیتونه

پهٔ حدیثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار پهٔ نیتونو دے- (1)

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! پهٔ ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي- راځئ چې د بیان اوریدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِیَّتونه وکړئ: مَثَلاً ❀ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❀ پهٔ اَدب به کښینم ❀ ښهٔ پهٔ توجُّه به بیان اورم ❀ څهٔ چې واورم، د هغې به د یادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د نیکانو خلقو اهمیت او فضیلت

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اِسلام زمونږه ښکلے دِین دے، د دې پاک آسماني دِین یو خاصیت دا هم دے چې زمونږ پهٔ دِین کښې اهمیت، عزت او فضیلت ❀ د نوم او نَسب نشته ❀ د ظاهري حُلیې نشته ❀ د مال او دولت او ظاهري شان او شوکت نشته ❀ د سوچ او د خبرو نشته بلکې پهٔ اِسلام کښې اهمیت، عزت او فضیلت عمل او کردار دے، کوم خوش قِسمته چې نیکئ کوي، د ژوند هر سعت د رَبّ پهٔ رضا والا کارونو کښې تیروي ❀ هغهٔ ته فضیلتونه هم عطا کولے شي ❀ هغهٔ ته عزت هم عطا کولے شي ❀ پهٔ

---

[1] ... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حدیث:1 ـ

معاشره کښې ورته اهمیت هم ورکولے شي ❁ د داسې خوش قِسمته دا شان شي چې د هغهٔ نوم اخستل، د هغهٔ ښه ذِکر کول هم د رحمت راوريدو ذريعه جوړه شي- منقول دي:

عِنْدَ ذِكْرِ الصَّالِحِيْنَ تَنَزَّلُ الرَّحْمَةُ د نيکانو خلقو د ذِکر کولو پهٔ وخت رحمت نازليږي-(1)

بيا د دې سره سره پهٔ قرآن او حديث کښې د نيکانو خلقو د خپل آئيډيل جوړولو باقاعده تعليم ورکړے شوے دے- د الله پاک ارشاد مبارک دے:

| | |
|---|---|
| وَّاتَّبِعْ سَبِيْلَ مَنْ اَنَابَ اِلَيَّ (پاره:21، لقمان:15) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او زما طرف ته د رجوع کوونکي کس پهٔ لاره ځهٔ- |

سُبْحٰنَ الله! خومره صفا ارشاد دے، فرمائيلے کيږي: هر هغه بنده ❁ کوم چې د الله پاک پهٔ لور رجوع لري ❁ د رَبِّ کريم پهٔ لار باندې روان وي ❁ نيک کارونه کوي ❁ د رَبّ پهٔ رضا والا کارونو کښې ژوند تيروونکے وي، هغهٔ خپل آئيډيل جوړ کړئ او پهٔ هغهٔ پسې شاته شاته ځئ- علمائے کرام فرمائي: ❁ صالِحِين (يعني نيکان خلق) آئيډيل جوړول د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ سُنَّت باندې د تللو وسيله ده-(2) ❁ د نيکانو خلقو د آئيډيل جوړولو پهٔ برکت سره د الله پاک خاص مدد او نصرت نصيب کيږي ❁ د نيکانو خلقو د آئيډيل جوړولو پهٔ برکت سره د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خصوصي شفقت نصيب کيږي ❁ څوک چې نيکان خلق آئيډيل

---

1... حلية الاولياء، رقم ١٠٧٥٠، ج٧، ص ٣٣٥-

2... حُسْنُ التَّنَبُّهِ لِمَا وَرَدَ فِي التَّشَبُّهِ، جلد:1، صفحه:144-

جوړوي، پهٔ هغهٔ باندې د الله پاک رحمت وريږي ❁ څوک چې نيکان خلق آئيډيل جوړوي، د هغهٔ، د هغهٔ د بال بچ، تر دې پورې چې د هغهٔ د ګاؤنډيانو هم حفاظت کولے شي ❁ څوک چې نيکان خلق خپل آئيډيل جوړوي، د هغهٔ دعاګانې قبليږي ❁ د نيکانو خلقو د لارې اختيارولو پهٔ برکت سره پهٔ دُنيا کښې د خير ❁ د ښه او پاک ژوند ❁ د نيکو اَعمالو توفيق نصيب کيږي ❁ او کوم خوش قِسمته چې نيکان خلق آئيډيل جوړوي، د هغهٔ د قبر پهٔ امتحان کښې ثابت قدمي، د حشر د وحشتونو نه امان، د پل صراط نه نجات او پهٔ جنَّت کښې د نيکانو خلقو ګاؤنډ نصيب کيږي- (1)

| | |
|---|---|
| بنا دے مجھے نیک نیکوں کا صدقہ | گناہوں سے ہر دم بچا یاالٰہی! |
| مرا ہر عمل بس ترے واسطے ہو | کر اِخلاص ایسا عطا یاالٰہی! |
| عبادت میں گزرے مری زندگانی | کرم ہو کرم یا خُدا! یاالٰہی! |

الله پاک دې مونږ ته د نيکانو خلقو پهٔ لار د تللو، د هغوئي د مشابهت اختيارولو، د هغوئي پهٔ شان د اعمالو، اخلاقو او کردار اختيارولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د يو صحابي او د يو مفتي ذِکرِ خير

يقيناً چې د نيکانو خلقو د طور طريقو اختيارولو د پاره د هغوئي د سيرت او کردار نه ځان خبرول ضروري دي- ډير زر 21 مُحَرَّم شريف راتلونکے دے، پهٔ دې ورځ عظيم صحابئ

[1]... حُسْنُ التَّنَبُّهِ لِمَا وَرَدَ فِي التَّشَبُّهِ، جلد:1، صفحه:238، 425، 437، 442، 446، 447، 461-

رسول، عاشقِ مصطفٰے، هغه اوچته هستي څوک چې د معراج په شپهٔ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په جنَّت کښې د ځان نه وړاندې وړاندې ملاحظه کړو [1] يعني د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مؤذِّن حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د وفات ورځ ده او نن 18 **مُحَرَّم شریف** دے، په ننۍ ورځ د يوې ډيرې نيکې هستۍ، عاشقِ قرآن، عاشقِ نيک اعمال، عالِمِ با عمل مفتئ دعوتِ اِسلامي حضرت مفتي محمد فاروق عطّاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د وفات ورځ ده- راځئ چې د دې دواړو نيکو هستيانو يعني د يو صحابئ رسول او د يو عاشقِ صحابه مفتي صاحب ذِکرِ خير واورو، د دوئي ښکلي صفتونه اورو او نيت کوو چې مونږ به هم د داسې نيکو کارونو کولو کوشش کوو-

## د حضرت بِلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ذِکرِ خير

زمونږه آقا حضرت بلال حبشي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مشهور صحابئ رَسُول دے، د هغوئي نوم مبارک: بِلال او لقب **مُؤَذِّنِ رَسُول** دے- بلکې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغوئي ته د **سَيِّدُ الْمُؤَذِّنِيْن** (د ټولو اذان کوونکو د سردار) خطاب عطا کړو- [2] د حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په باره کښې عام طور دا ګڼلے شي چې د هغوئي رنګ مبارک ډير زيات تور وو بلکې بعضې خلق چې کله د حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حُليه مبارکه بيانوي نو **مَعَاذَ الله!** يو وحشت ناک شان ماحول جوړ کړي، الله پاک دې مونږ د

---

1... بخاری، ج۱، ص۱۵۴۔

2... سير اعلام النبلاء، جلد:3، صفحه:220۔

بے ادبی نه وساتي! دا صحيح نه دي، حضرت بلال رَضِیَ اللهُ عَنْهُ غنم رنګے وو، علمائے کرامو د حضرت بلال رَضِیَ اللهُ عَنْهُ حليه مباركه بيان کړې ده او ليکلي يـې دي چې كَانَ شَدِيْدُ الْاَدِمَةِ د حضرت بلال رَضِیَ اللهُ عَنْهُ رنګ مبارک ډير غنم رنګے وو، [1] يعنې لکه خنګه چې د غنمو دانه وي، داسې چې لږه شان توره کړے شي نو چې د دې نه څنګه رنګ جوړيږي، د حضرت بلال رَضِیَ اللهُ عَنْهُ رنګ مبارک داسې وو- په پاک و هند [يعنې پاکستان او هندوستان] کښې عموماً د خلقو رنګونه غنم رنګي وي-

اسلام کا جمال ہے تیرے جمال سے | سیرت تری ہے دِین کی اک ترجماں بلال

**وضاحت:** خلق خو اے بلال رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ! ستاسو په رنګ پسې خبرې جوړوي، خو حقيقت دا دے چې د اِسلام ښکلا ستاسو د ذات مبارک نه واضحه کيږي او ستاسو ذات مبارک د دِينِ اِسلام ترجمان دے-

❀ حضرت بلال حبشي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ **سابِقُ الاِسلام** دے يعنې هغوئي د اِسلام په ابتداء کښې ايمان راوړے وو ❀ د غلامی نه د ازادی نصيب کيدو نه واخله تر د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ظاهري وِصال پورې حضرت بِلال رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په بارګاهِ رسالت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې حاضر وو ❀ حضرت بِلال رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مؤَذِن هم دے ❀ او خازِنِ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم دے يعنې رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مالي معاملو د کرته کتنې ذمه واري حضرت بلال رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ته عطا کړې وه ❀ د الله پاک د آخري نبي، رسولِ هاشمي

[1]... معرفة الصحابه لابي نعيم، جلد:1، صفحه:333-

صَلَّى اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ظاهري وِصال نه پس حضرت بلال رَضِیَ اللّٰهُ عَـنْهُ شام مُلک ته تشریف یوړلو او تر آخره پورې هم هلته پاتې شو، حضرت بلال رَضِیَ اللّٰهُ عَـنْهُ په 20 هجرۍ د دې فاني دُنیا نه رُخصت شو- د هغوئي مزار مبارک په شام مُلک کښې دے-[1]

جاه و جلال دَو نہ ہی مال و مَنَال دَو | سوزِ بلال لَبس میری جھولی میں ڈال دو
دُنیا کے سارے غم میرے دِل سے نکال دو | غم اپنا یاحبیب بَرائے بِلال دو [2]

**وضاحت:** یا رسولَ الله صَلَّى اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! زما دنیائي شان او شوکت، مال او اسباب نه دي پکار، زما خو بس د حضرت بلال رَضِیَ اللّٰهُ عَـنْهُ په شان عشقِ رسول پکار دے، د حضرت بلال رَضِیَ اللّٰهُ عَـنْهُ په وسیله باندې تاسو داسې کرم ووفرمایئ چې زما د زړه نه د دُنیا ټول غمونه لرې شي او صرف ستاسو غم رانصیب شي-

## بِلال رَضِیَ اللّٰهُ عَـنْهُ به چرې هم دروغ نه وئیل

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** د حضرت بِلال رَضِیَ اللّٰهُ عَـنْهُ ټول سیرت روښانه دے، د هغوئي هره یوه ادا د اختیارولو قابل ده، د هغوئي په ډیرو اعلیٰ صفتونو کښې یو صفت دا دے چې هغوئي به همیشه رښتیا وئیل، د دروغو نه به یې نفرت کولو- یوه ورځ رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حضرت بلالِ حبشي رَضِیَ اللّٰهُ عَـنْهُ کور ته تشریف یوړلو-

سُبْحٰنَ الله! څومره لوئي عزت دے چې د دواړو جهانونو آقا، فرښتې چې د چا په بارګاه کښې د حاضرۍ خواهش کوي، هغه آقا صَلَّى اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پخپله لاړو او د حضرت بلال رَضِیَ

---

[1] ...أُسد الغابه، جلد:1، صفحه:415 و416، ملتقطاً-

[2] ...وسائلِ بخشش، صفحه:305-

اللّٰهُ عَـنْهُ کور ته يـې تشريف يوړلو- پوښتنه يـې وکړه: بِلال په کور کښې دے؟ د حضرت بِلال رَضِیَ اللّٰهُ عَـنْهُ کور والې محترمې عرض وکړو: هغه خو په کور کښې نشته- بيا د هغوئي کور والې محترمې عرض وکړو: يا رسولَ اللّٰه صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! بِلال چې کله په کور کښې وي نو د هغوئي په ژبه باندې هم يوه خبره وي: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ، قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ يعنې نن رسول اللّٰه دا ووفرمائيل، نن رسول اللّٰه هغه ووفرمائيل (صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم)- عشق ته وګورئ چې حضرت بِلال رَضِیَ اللّٰهُ عَـنْهُ تر څو پورې په بارګاهِ رسالت صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې حاضر وي نو د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ديدن کوي، چې کله کور ته لاړ شي نو هم د خپل محبوب آقا، د دواړو جهانونو د داتا صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خبرې کوي-

وِچھوڑے دے میں صَدْمے روز جَھلّاں یارسولَ اللہ!

کَرَاں میں تیریاں دِن رَات گَلّاں یارسولَ اللہ!

**وضاحت:** يا رسول اللّٰه صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! په فِراق کښې شپه ورځ ستاسو د جدايۍ غمونه برداشت کووم، د جدايۍ د وور کمولو د پاره شپه ورځ ستاسو خبرې کووم (په خپل غوښتونکي باندې کرم وکړئ، دۀ ته خپله جلوه عطا کړئ)-

خير! آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې دا خبره واوريدله نو اوئې فرمائيل: مَا حَدَّثَكِ عَنِّيْ بِلَالٌ فَقَدْ صَدَقَ بِلال چې زما د اړخ نه کوم يو حديث هم بيانوي، هغه رښتيا دے بِلَالٌ لَا يَكْذِبُ بِلال دروغ نه وائي-(1)

---

1…تاريخ مدينه دمشق، جلد:10، صفحه:463-

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** كمال ته وګورئ چې ربنتونے آقا، رسولِ خُدا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خپله ربنتوني ژبه باندې د عاشقِ رسول حضرت بِلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ربنتونولى ګواهي ورکوي- دا دے د حضرت بِلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شان- كاش چې د حضرت بِلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پۀ وسيله زمونږه هم هميشه د ربنتياؤ وئيلو توفيق نصيب شي، كاش چې د دروغو نه داسې نفرت شي چې تر مرګه پورې چرې هم دروغ اونه وايو ❀ دروغ وئيل ګناه ده ❀ دروغ دوزخ ته بوتلونكے كار دے ❀ دروغ وئيل د مسلمانانو نۀ بلكې د منافقانو طريقه ده- آه! دلته داسې نادانه خلق هم دي څوک چې وائي: د ربنتياؤ زمانه نۀ ده، د دروغو نه بغير كار نه كيږي-

دا دعوىٰ تر كومه حده پورې صحيح ده، راځئ چې پۀ دې باره كښې هم د حضرت بِلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د پاک سيرت نه راهنمائي حاصله كړو-

## هم ربنتياؤ ستا كار صحيح كړے دے

د حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يو ورور وو، پۀ بعضې كتابونو كښې د هغوئي نوم خالد ليكلے شوے دے- د هغوئي نكاح كول وو، حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغوئي د ځان سره كړل او يوې قبيلې ته لاړل-

اوس وګورئ چې دلته هم رشتې كيږي خو حال يې څۀ وي؟ ❀ ځان ښه ښودلے شي ❀ دروغ وئيلے كيږي ❀ د جينۍ كور والا د جينۍ د دروغو تعريفونه كوي ❀ د هلک كور والا د هلک د دروغو تعريفونه كوي ❀ بيا چې كله واده وشي، د واده نه پس دروغ

رانښکاره شي نو جنګونه کېږي، جګړې کېږي تر دې پورې چې طلاق ته خبره لا رېږ شي- د حضرت بلال رَضِیَ اللّٰہُ عَـنْهُ پاک انداز ته وګورئ چې هغوئي د رشتې کولو د پاره د جینۍ کور ته لاړل نو اوئې فرمائيل: تاسو مونږ پیژنئ، دا زما ورور دے ❀ مونږه مخکښې غلامان وو، الله پاک مونږ ته ازادي راعطا کړله ❀ مونږ پهٔ ګمراهۍ کښې وو، الله پاک د خپل نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ ذریعه مونږ ته هدایت راعطا کړلو ❀ مونږه غریبانان وو، الله پاک مونږه مالداره کړو، که تاسو د خپلې جینۍ راکول خوښوئ نو اَلْحَمْدُ لِلّٰه! او که نه خوښوئ نو بیا هم هیڅ باک نشته-

د حضرت بِلال رَضِیَ اللّٰہُ عَـنْهُ وړاندیز [یعنې پیشکش] یې چې واوریدو نو د جینۍ کور والؤ فوراً رشته منظور کړه- بیا چې کله حضرت بِلال رَضِیَ اللّٰہُ عَـنْهُ واپس تللو، پهٔ لار کښې ورته ورور ووئيل: اے وروره! تاسو به زمونږه د نیکۍ ذِکر کړے وے، پهٔ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې به مو زمونږ د ځان قربانولو ذِکر کړے وے، تاسو زمونږه د تیر وخت حالات ولې بیان کړل؟ حضرت بِلال رَضِیَ اللّٰہُ عَـنْهُ ووفرمائيل: **ما رښتیا ووئيل او هم د دې رښتیاؤ پهٔ وجه ستا رشته وشوه-** (1)

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې پهٔ رښتیاؤ وئیلو کارونه نه خرابیږي بلکې صحیح کیږي او پهٔ دروغو وئیلو باندې کارونه صحیح کیږي نه بلکې اُلټا خرابیږي- الله پاک دې مونږ ټولو ته همیشه د رښتیاؤ وئیلو توفیق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

---

1... تَذْكِرَهٔ حَمْدُونيه، باب:8صِدْق و کِذْب کا بیان، جلد:3، صفحه:78۔

غیبت سے اور تُہمت و چغلی سے دُور رکھ | خُوگر تُو سچ کا دے بنا یا ربِّ مصطفٰے[1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! راځئ چې اوس د مفتي فاروق صاحب د ذِکرِ خیر هم یو څو برکتونه حاصل کړو۔

## د مفتي فاروق ښکلي اوصاف

مفتئ دعوتِ اِسلامي مفتي فاروق صاحب پهٔ 26 اګست، کال 1976 دې دنیا ته تشریف راوړلو، د پاکستان د لاړکانه ښار اوسیدونکے وو ✿ هغوئي حافِظِ قرآن هم وو ✿ پهٔ کال 1995 کښې هغوئي پهٔ جامعةُ المدینه کښې داخله واخسته، عالِم جوړ شو ✿ بیا یې مفتي کورس وکړو او مفتي جوړ شو او تقریباً تر 11 میاشتو پورې پهٔ دار الافتاء کښې اوسیدو او فتوې به یې لیکلې۔[2]

## (1): د قرآنِ کریم د تلاوت سره شوق

د مفتي فاروق صاحب سره یو ځائے د سبق ویونکو مَدَني علمائے کرامو بیان دے چې د طالبِ علمی پهٔ زمانه کښې چې به کله د سبق ترمینځه وقفه شوه نو مونږ به د چائے وغیره څښلو د پاره تللو خو مفتي فاروق صاحب به د وخت نه فائده اخستله او تِلاوت به یې شروع کولو۔ یو ځل یې د چا پهٔ پوښتنه ووفرمائیل چې زهٔ روزانه یو منزل (تقریباً

---

[1]… وسائلِ بخشش، صفحه:۔

[2]… مفتئ دعوتِ اسلامی، صفحه:۔

7 سیپارے) تلاوت کووم- دغه شان که به د کلاس پهٔ وخت یو پیریډ خالي وو نو د قرآنِ کریم تلاوت به یـې شروع کولو، د هغوئي کلاس فیلو اِسلامي وروڼو د هغوئي نه د متاثره کیدو سره د هغوئي نه د تجوید او قراءَت سره قرآنِ پاک زده کول شروع کړي وو- [1]

سُبْحٰنَ اللّٰه! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! خومره ښکلے ذوق دے، خومره ځانګړے شوق دے، وګورئ چې مفتي صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به د وخت خومره قدر کولو، چې لږ شان وخت به ورته میلاؤ شو نو فوراً به یـې تلاوت شروع کولو- اوس زمونږه حال څهٔ وي، چې لږ شان وخت هم فارغ شو نو د ټولو نه مخکښې موبائل پهٔ لاس کښې راواخلو، بیا پهٔ موبائل کښې څهٔ وي؟ ❀ کله واټس ایپ ګورو ❀ سټیټس چیک کوو ❀ یوټیوب ته لاړ شو ❀ فیس بک ته لاړ شو او فضول سکرولنګ کوو ❀ ریلز یا شارټس کتل شروع کړو، بیا پهٔ دې موبائل کښې د ګناهونو ذریعې هم ډیرې زیاتې دي بلکې وئیلے شو چې موبائل د ګناهونو پوره دُکان دے، چې موبائل پهٔ لاس کښې وي او انسان د ګناهونو نه بچ شي دا ډیره ګرانه ده، آؤ! د دې صحیح استعمال هم یقیناً چې شته، استعمالوونکي یـې استعمالوي هم- بهر حال د وئیلو مقصد دا دے چې مونږ د وخت قدر ډیر کم کوو، لږ لږ وخت چې مونږ ته میلاویږي، هغه خو مونږ هډو د خپل ژوند حصه نه شمیرو ❀ مثلاً د نـمونځ د پاره ځو ❀ د نـمونځ کولو نه واپس راځو، پهٔ لار کښې چې دا کوم وخت راځي، دا هم زمونږ د ژوند حصه ده، د دې به هم د قیامت پهٔ

[1] ... مفتئ دعوتِ اسلامی، صفحه:-

ورځ حساب ورکوو ❁ داسې په کار کولو کښې يو څو سيکنډه ودريدو، ساه مو واخسته، دا يو څو سيکنډه، يو څو منټه هم قيمتي دي ❁ کار مو کوو، يا په سکول، کالج وغيره کښې وو، لږه شان وقفه شوه، عموماً دا وقفه په فضول ګپونو کښې بربادولے شي ❁ دغه شان په ټوله ورځ کښې ډير زيات وخت مونږ ته د دوو دوو، څلورو څلورو منټونو په شکل کښې ميلاويږي، د دې عموماً پروا نه کيږي ❁ دا خو د يو څو منټو خبره ده ❁ ډيرې ډيرې ګينټې هم فضول تيرولے شي ❁ ټوله ټوله شپه په فضول ګپ شپ کښې، د دوستانو سره په ناسته پاسته کښې يا په موبائل کښې په مصروفه کيدو کښې فضول تيرولے شي، دا ډيره بده خبره ده، ډيره زياته بده خبره ده، وخت ډير قيمتي څيز دے، هم دا وخت خو زمونږه ژوند دے چې ساه اخلو نو ژوندي يو، که ساه بنده شوه نو هر څۀ به ختم شي- په قرآنِ کريم کښې دي:

يٰۤاَيُّهَا الْاِنْسَانُ اِنَّكَ كَادِحٌ اِلٰى رَبِّكَ كَدْحًا فَمُلٰقِيْهِ (پاره:30، الانشقاق:6)

[مفهوم] ترجمہ ٔ کنزُ العِرفان: اے انسانه! بے شکه تۀ د خپل رب طرف ته منډې وهونکے يې بيا د هغۀ سره ملاقات کوونکے يې-

په تفسير نُورُ العِرفان کښې دي: يعنې اے انسانه! ستا هره يوه ساه تا مرګ ته او د رَبّ سره ميلاويدو ته نزدې کوي- يو شاعر ډيره ښه توجه راګرځولې ده، ليکي:

اِک یہ جہاں، اِک وہ جہاں، دونوں جہاں کے درمیاں
ہے فاصلہ اِک سانس کا، گر آگئی تو یہ جہاں، گر رُک گئی تو وہ جہاں

**وضاحت:** د دُنیا او د آخرت ترمینځه صرف د یوې ساه فاصله ده که ساه چلیږي نو بنده پهٔ دُنیا کښې وي او که ودریږي نو د آخرت پهٔ لور سفر شروع کړي-

ځکه خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د خپل وخت قدر وکړئ! مونږ له پکار دي چې زیات وخت پهٔ نیکو کښې د تیرولو کوشش وکړو ❁ خنګه چې فارغ وخت میلاو شي، که هغه یو منټ ولې نه وي، فوراً ذِکر الله شروع کړئ ❁ یو ځل الله وئیل هم ذِکر دے ❁ د یو ځل سُبْحٰنَ الله ویونکي د پاره پهٔ جنَّت کښې ونه لګولے شي [1] ❁ پهٔ حدیثِ پاک کښې دي: اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ تَمۡلَاُ الۡمِیۡزَان اَلْحَمْدُ لِلّٰه وئیل د تَلې ډکوونکې نیکي ده [2] ❁ یو ځل د صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد وئیلو سره د رحمت 70 دروازے برسیره کیږي- [3]

وګورئ چې دا مختصرې مختصرې نیکۍ دي، یو څو سیکنډه پرې لګي او ثواب یې خومره ډیر دے، که مونږ د خپل وخت قدر وکړو نو ډیرې زیاتې نیکۍ پهٔ اسانۍ سره کولے شو ❁ کوشش کوئ چې پهٔ لاس کښې تسبیح وساتئ! چې خنګه موقع میلاویږي، فوراً د الله پاک ذِکر یا درودِ پاک لوستل شروع کړئ! ❁ د آخرت فِکر شروع کړئ! ❁ د نعتِ پاک شعرونه وئیل شروع کړئ!

اُن کی یادوں میں کھو جایئے! | مصطفٰے، مصطفٰے کیجئے!

الله پاک دې مونږ ته توفیق راعطا کړي، د وخت قدر مو دې نصیب کړي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

---

[1] ... سنن ابن ماجه، کتاب الادب، باب فضل التسبیح، الحدیث:۳۸۰۷، ج۴، ص ۲۵۲-

[2] ... صحیح مسلم"، کتاب الطهارة، باب فضل الوضوء، ر:223، ص-140.-

[3] ... قَوۡلُ البَدِیۡع، باب ثانی، صفحه:277-

## د تلاوت عادت جوړ کړئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مفتي فاروق عطاري رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه به د قرآنِ پاک د تلاوت سره شوق کولو، الله پاک دې مونږ ته هم داسې شوق راعطا کړي، که د قرآنِ پاک د حفظ کولو سعادت مو نصيب وي، نو بيا خو پهٔ ناسته پهٔ ولاړه، پهٔ ګرځيدو کښې هم د قرآنِ کريم تلاوت کيدے شي، که حفظ نه وي نو بيا هم روزانه څهٔ نا څهٔ وخت د تلاوت د پاره ويستل پکار دي، يو مسلمان څوک چې پهٔ الله او پهٔ رسول باندې ايمان لري، قرآنِ کريم د رَبّ کلام مني، نو د هغهٔ ژوند د قرآن نه بغير څنګه تيريدے شي؟ که زيات نه وي نو ❀ روزانه يوه ګينټه د تلاوت د پاره کيږدئ! ❀ که يوه نه وي نو نيمه ګينټه ❀ که نيمه ګينټه نه وي نو 15 منټه ❀ که 15 منټه نه وي نو کم از کم 5 منټه خو ډير زيات مصروف انسان هم ويستے شي، که مونږه کوشش وکړو او روزانه د ❀ يوې رکوع ❀ 2 رکوع ❀ نيمې سيپارې ❀ يوې سيپارې، که الله پاک توفيق راعطا کړي نو ❀ دوه سيپارې ❀ درې سيپارې ❀ څلور سيپارې تلاوت وکړو! مفتي فاروق صاحب رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه ته وګورئ! روزانه به يې يو منزل تلاوت کولو، پهٔ ټول قرآنِ کريم کښې 7 منزلونه دي، يعنې مفتي صاحب به پهٔ 7 ورځو کښې د ټول قرآنِ کريم ختم کولو۔

## د تلاوت ثوابونه

الله پاک دې توفيق راعطا کړي، د قرآنِ پاک تلاوت ډير د فضيلت والا عمل دے۔

❀ د قرآنِ کريم تلاوت افضل عبادت دے۔ [1] ❀ د قرآنِ کريم پهٔ يو حرف لوستلو د 10

[1]... کنز العمال، کتاب: الاذکار، جزء: 1، جلد: 1، صفحه: 257، حديث: 2261۔

نیکو ثواب میلاویږي۔ (1) ❀ د قرآنِ کریم لوستلو سره رحمت نازلیږي، فرښتے پرې پۀ وزرو باندې سورے کوي، سکینه نازلیږي۔ (2) ❀ څوک چې سحر د قرآنِ کریم ختم وکړي نو تر ماښامه او څوک چې ماښام ختم وکړي نو تر سحره پورې فرښتے د هغۀ د پاره د رحمت دعاګانې کوي۔ (3) ❀ د قیامت پۀ ورځ به قرآنِ کریم د خپل لوستونکي د پاره شفاعت کوي۔ (4) ❀ د قرآنِ پاک قاري به قرآنِ کریم لولي او د جنّت درجو ته به خیژي۔ (5) ❀ څوک چې پۀ نـمونځ کښې پۀ ولاړه د قرآنِ کریم تلاوت وکړي د هغۀ د پاره د هر حرف پۀ بدل کښې **100 نیکۍ** دي او څوک چې پۀ نـمونځ کښې پۀ ناسته تلاوت وکړي د هغۀ د پاره د هر حرف پۀ بدله کښې **50 نیکۍ** دي او څوک چې د نـمونځ نه علاوه پۀ اوداسه کښې تلاوت وکړي د هغۀ د پاره **25 نیکۍ** دي او څوک چې بغیر د اوداسه نه تلاوت وکړي د هغۀ د پاره **10 نیکۍ** دي۔ (6) ❀ د قرآنِ پاک قاري د اِسلام جنډا نیوونکے دے۔ (7) ❀ د قرآنِ کریم قاري د اللّٰه پاک خاص بنده دۀ۔ (8) ❀ قرآنِ پاک لوستونکے د اللّٰه پاک د عذاب نه محفوظ وي۔ (9) ❀ قرآنِ کریم لوستونکے د ده پۀ

[1]… ترمذی، کتاب: فضائل القران، صفحه:676، حدیث:2910۔

[2]… مسلم، کتاب:الذکر والدعا، صفحه:1039، حدیث:2699 ماخوذًا۔

[3]… کنز العمال، کتاب: الاذکار، جزء:1، جلد:1، صفحه:261، حدیث:2316۔

[4]… مسلم، کتاب: صلاة المسافرین، صفحه:290، حدیث:804۔

[5]… ابو داؤد، کتاب:الوتر، صفحه:241، حدیث:1464 ماخوذًا۔

[6]… احیاء العلوم، کتاب آداب تلاوة، الباب الثانی، جلد:1 صفحه:362۔

[7]… مسند الفردوس، جلد:2، صفحه:135، حدیث:2690۔

[8]… کنز العمال، کتاب: الاذکار، جزء:1، جلد:1، صفحه:258، حدیث:2275۔

[9]… کنز العمال، کتاب الاذکار، الجزء الاول، /، حدیث:

برکت ترقي کوي او ډيرې درجے حاصلوي-[1]

يہی ہے آرزو تعلیم قرآن عام ہو جائے | تلاوت کرنا صبح و شام میرا کام ہو جائے

## د تِلاوت پۀ برکت يـې ژوند بچ شو

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د تلاوت برکتونه پۀ دې دُنيا کښې هم ظاهريږي- يو اِسلامي ورور فرمائي چې يو ځل ما مفتي فاروق صاحب پۀ موټر سائيکل د ځان سره کښينولو او کور ته مې بوتللو، ما موټر سائيکل چلولو، هغوئي راپسې شاته ناست وو او تلاوت يـې کولو، پۀ لاره کښې پۀ يو ځائے کښې ما داسې محسوس کړل چې لکه څۀ تار زمونږ د موټر سائيکل سره وجنګيدو- بهر حال! زۀ روان ووم، د مفتي صاحب کور ته ورسيدو، هغوئي مې کوز کړل، بيا چې هم پۀ هُغه لاره باندې واپس راغلم نو اومې کتل چې پۀ هُغه ځائے کښې خلق راجمع شوي دي، پوښتنه مې وکړه چې څۀ شوي دي؟ خلقو ووئيل چې د بجلۍ تار پۀ سړک باندې پروت دے، پۀ کوم کښې چې کرنټ دے- دا مې چې واوريدل نو زۀ حيران پاتې شوم چې هم دا تار زمونږ د موټر سائيکل سره جنګيدلے وو خو اَلْحَمْدُ لِلّٰه! مونږ له يـې کرنټ رانکړو، زما ښه ګمان دے چې مفتي صاحب چې کوم تلاوت کولو، دا هم د هغې برکت دے-[2]

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! معلومه شوه چې د تلاوت پۀ برکت خو د آخرت ثواب اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! هم ميلاويږي خو که الله پاک وغوښتل نو د دُنيا

---

[1]...کنز العمال، کتاب الاذکار، الجزء الاول، /، حدیث:

[2]...مفتئِ دعوتِ اسلامی، صفحہ:

مشکلات، پریشانۍ، آفتونه، بلاګاني به هم لرې کیږي-

تلاوت کی توفیق دیدے الٰہی! | گناہوں کی ہو دور دل سے سیاہی

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## (2): د ژبې او سترګو حفاظت

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د دعوتِ اِسلامي د مفتي فاروق صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه یو ډیر ښکلے صفت دے چې هغوئي به د ژبې او سترګو حفاظت کولو، یعنې خپله ژبه به یې هم د ګناهونو نه بچ کوله او سترګې به یې هم د ګناهونو نه بچ ساتلې- ❁ د هغوئي سره د کار کوونکي یو مفتي صاحب بیان دے چې د دعوتِ اِسلامي مفتي صاحب به خُلې ته مضبوطه قفلِ مدینه لګوله (یعنې د ګناهونو نه ډکې خبرې کول خو غټه خبره ده بغیر د ضرورت نه به یې خبرې هم نه کولې)- ډیر ځل داسې وشول چې زۀ پۀ موټر سائیکل باندې د هغوئي سره دار الافتاء ته راغلم، هغوئي به پۀ ټوله لاره باندې خاموش وو، دار الافتاء ته چې به راورسیدو نو سلام به یې وکړو او رخصت به شو- (1)

❁ د هغوئي د کور والؤ بیان دے چې مفتي صاحب به ډیرې کمې خبرې کولې، اکثر به خاموشه وو- بعضې وخت به یې د کور والؤ سره هم پۀ لیکلو خبرې کولې- (2)

دغه شان یې د سترګو قفل مدینه هم ډیره زبردسته وه (یعنې خپلې سترګې خو به یې د

---

1... مفتیٔ دعوتِ اسلامی، صفحه:

2... مفتیٔ دعوتِ اسلامی، صفحه:

ګناهونو نه بچ کولې، د فضول اخوا دېخوا کتلو نه به يې هم ځان ساتلو)- هغوئي خپل موټر سائيکل ځکه خرڅ کړو چې که د چلولو په وخت بعضې وخت غير محرمه زنانه مخې له راشي نو نظر بچ کول به مشکل شي- (1)

د يو اِسلامي ورور بيان دے چې زما د مفتي فاروق صاحب سره د هندوستان د سفر سعادت نصيب شو، په سفر کښې ډير ځل ما دا وليدل چې کله به په ګاډي کښې کښيناستو او چرته به تللو نو مفتي صاحب چې به په ګاډي کښې ښنګه کښيناستو نو سترګې به يې پټې کړې (د پاره د دې چې غير محرمه زنانه اونه ويني)- (2)

سُبْحٰنَ الله! څنګه تقوىٰ ده---!! کاش چې زمونږه هم داسې توفيق نصيب شي- رښتيا خبره ده چې نن سبا خو نۀ زمونږه خُله په واک کښې ده او نۀ مو سترګې په واک کښې دي- ژبه ده چې په خوزيدو راشي نو بے دريغه خوزيږي ❀ کله د دې ملک خبرې ❀ کله د سمندر پورې ملکونو خبرې ❀ کله فضول خبرې ❀ کله غيبت ❀ کله چغلي ❀ په يو بَل پسې خبرې کول ❀ د ژبې په ذريعه د بل چا زړۀ ازارول ❀ غلطې خبرې کول وغيره بس روان وي- دغه شان خو د سترګو د حفاظت خو هډو تپوس مۀ کوئ! ❀ په سړک باندې چې روان يو نو نظر مو څلور واړو اړخونو ته اوړي را اوړي ❀ کله د دکانونو په بورډونو ليکل لولو ❀ کله په سړک باندې لګيدلو اشتهارونو ته ګورو، مخکښې به خلقو فليکسونه (Flex) لګول، اوس خو په سړکونو باندې داسې ايم ډي لګيدلې وي چې د

---

1 ... مفتئ دعوتِ اسلامی، صفحه:

2 ... مفتئ دعوتِ اسلامی، صفحه:

بے پردې زنانۀ ویډیوګانې پرې چلیږي، دلته د خلقو حال څۀ دے؟ که څوک موټر سائیکل چلوي نو ویډیو ته ګوري، که څوک موټر چلوي نو نظر یــې ویډیو ته وي، پیدل تلونڪي هم بره ګوري او پۀ سړک اوړي، نتیجه یــې څۀ وي چې پیښې هم رامخې ته کیږي، زخمي کیږي هم، ګاډے یــې هم خرابیږي او مرګونه هم کیږي- الله پاک دې زمونږ پۀ حال باندې رحم وکړي- د قرآنِ پاک پۀ تعلیماتو باندې عمل وکړئ، دُنیا به مو هم ښه شي او آخرت به مو هم ښه شي-

## د نظر ښکته ساتلو قرآني حکم

پۀ 18سیپاره سورۀ نُور آیت 30 کښې الله پاک فرمائي :

قُلْ لِّلْمُؤْمِنِیْنَ یَغُضُّوْا مِنْ اَبْصَارِهِمْ

[مفهوم] ترجمہ ٔ کنزُ العِرفان: مسلمانانو سړو ته حُڪم وکړه چې خپلې سترګې لږې ښکته ساتي-

پۀ دې آیت کښې مسلمانانو نارینۀ ته حڪم ورکړے شو چې هغوئي دې خپل نظر لږ ښکته ساتي او کوم څیز ته چې کتل جائز نه دي هغې ته دې نه ګوري- (1)

## د لارې حقونه

د حضرت ابو سعید خدري رَضِیَ اللّٰهُ عَـنْهُ نه روایت دے، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد ووفرمائیلو: تاسو په لارو کښې د کښیناستو نه بچ اوسئ- صحابۀ کرامو

---

1 … خازن، النور، تحت الآیة: ۳۰، ۳/۳۴۸۔

رَضِیَ اللّٰهُ عَـنْهُم عرض وکړو: یا رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! پۀ لارو کښې د کښيناستو نه بغير زمونږه ګزاره نه کيږي، مونږه هلته کښينو او خبرې کوو- ارشاد يې ووفرمائيلو: که پۀ لارو کښې د کښيناستو نه بغير ستاسو بله لار نشته نو د لارې حق ادا کړئ- صحابۀ کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَـنْهُم عرض وکړو: د لارې حق څۀ دے؟ ارشاد يې ووفرمائيلو: نظر ښکته ساتل، ضرر رسوونکے څيز لرې کول، د سلام جواب ورکول، د نيکۍ دعوت ورکول او د ګناه نه منع کول- [1]

## بدکارې سترګې

د حضرت ابو هُريره رَضِیَ اللّٰهُ عَـنْهُ نه روايت دے چې د الله پاک نبي، مکي مَدَني صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي چې د سترګو زِنا بد نظر دے- [2]

## د بد نظرۍ نه د بچ کيدو فضيلت

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** مونږ له ذهن جوړول پکار دي، د نظر ښکته ساتلو عادت جوړ کړئ، **اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم!** ډير برکتونه به درنصيب شي- د حضرت مُعَاوِيَه بِن حَيدَه رَضِیَ اللّٰهُ عَـنْهُ نه روايت دے چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد ووفرمائيلو: درې سترګې به دوزخ نه ويني- **(1):** هغه سترګې کومو چې د الله پاک پۀ لار کښې څوکۍ وکړه **(2):** هغه سترګې کومې چې د الله پاک د ويرې نه پۀ ژړا

---

[1] ... بخاری، کتاب المظالم والغصب، باب افنية الدور والجلوس ...الخ، ۲/ ۱۳۲، الحديث: ۲۴۶۵-

[2] ... بخاری، حديث ۶۲۴۳-

شي او **(3):** هُغه سترګي کومې چې د الله پاک د حرام کړے شوو څيزونو پۀ لور د پورته کيدو نه منع شي- [1]

## د عبادت خوېنو والے نصيب کيږي

**د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** د زنانو د حُسن او جمال پۀ لور نظر کول د ابليس پۀ زهر وهونکو غشو کښې يو غشے دے- څوک چې د خپلو سترګو حفاظت وکړي، الله پاک به هغۀ ته د داسې عبادت توفيق ورعطا کړي د کوم خوږوالے چې به هغۀ پۀ خپل زړۀ کښې بيامومي- [2]

## نظر ښکته ساتل زړۀ صفا کوي

د امام محمد غزالي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه دې کلام ته وګورئ: نظر ښکته ساتل زړۀ ډير صفا کوي او پۀ نيکو کښې د زياتوالي ذريعه ده- [3]

سُبۡحٰنَ الله! څومره ښکلے برکت دے، عام طور خلق ګيله کوي چې نـمونځ ته يـې ډډې نه لګي، د نيکو پۀ لور يـې زړۀ نه مائله کيږي، پۀ نـمونځ کښې ورته وسوسې ورځي، زړۀ مې غواړي چې نيک انسان جوړ شم خو د ګناهونو عادت رانه نۀ ځي، نيکو ته مې هډو ډډې نه لګي- امام غزالي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه عِلاج عطا کوي چې د خپل نظر ښکته ساتلو عادت جوړ کړه! زړۀ به دې هم صفا شي او د نيکو توفيق به هم درنصيب شي-

[1]… معجم کبير، ۱۹/ ۲۱۶، حديث:۱۰۰۳-

[2]… معجم کبير، حديث:10362-

[3]… منهاج العابدين، تقوى الاعضاء الخمسة، الفصل الاول: العين، ص ۲۷۲-

آقا کی حیا سے جھکی رہتی نظر اکثر | آنکھوں پہ مرے بھائی لگا قفلِ مدینہ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## (3): د نـمونځونو اهتمام

د مفتي فاروق صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ صفتونو کښې يو ښکلے صفت دا هم دے چې هغوئي به د جَمعې سره د نـمونځ ډېر زيات اهتمام کولو- ډېر ځل که به هغوئي ته پۀ ريل ګاډي کښې پنجاب ته تلل وو نو د کراچۍ نه به تر حيدر آباد پورې پۀ بس کښې تللو د پاره د دې چې نـمونځ پۀ اسانه ادا کړي، که د ريل ګاډي پۀ راتلو کښې به وخت وو نو باقاعده به جومات ته تللو او د جَمعې سره به يې د نـمونځ ادا کولو کوشش کولو، هميشه به يې نـمونځ پۀ وړومبي صف کښې د ادا کولو پوره کوشش کولو- د مفتي صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د يو دوست بيان دے چې مفتي صاحب ډېر باعمله وو ❀ اکثر به پۀ اودس کښې وو ❀ ډېر ځل ما هغوئي پۀ تـحِيَّةُ الـوُضُو ادا کولو هم ليدلي دي ❀ عموماً د اذان نه مخکښې به يې اودس کولو، بيا به چې څنګه اذان وشو نو جومات ته به تللو ❀ عموماً به يې پۀ وړومبي صف کښې نـمونځ ادا کولو ❀ زۀ تقريباً د هغوئي سره 4 کاله ووم، پۀ دې موده کښې ما هغوئي پۀ تـکبيرِ اُولیٰ قضا کيدو نه دي ليدلي- (1)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د نيکو ګټلو څومره زبردسته جذبه ده، څومره د کمال اِستقامت دے---!! پۀ څلورو کالو کښې يو ځل هم د مفتي صاحب نه تـکبيرِ

---

1 ... مفتئ دعوتِ اسلامی، صفحہ:۔

اُولیٰ نه دے قضا شوے، د جَمعې سره چې نـمونځ کوې او د نیت کولو د پاره چې امام صاحب کوم ورومبے تکبیر وائي، هغې ته تکبیرِ اُولیٰ وئیلے شي- اوس که مونږ لږ غور وکړو نو دلته خو تکبیرِ اُولیٰ غټه خبره ده، خلق د جَمعې سره نـمونځ قدرې نه کوي بلکې څومره داسې خلق دي کوم چې نـمونځونه قضا کوي، پهٔ زرګونو خو هغه دي د کومو پهٔ فهرست کښې چې نـمونځ ادا کول شامل نه دي، بس د جُمعې او اختر نـمونځ کوي، باقي ورته د روزانه 5 نـمونځونو هډو پته نه وي--!! الله پاک دې زمونږه پهٔ حال باندې رحم وکړي- پهٔ یوه ورځ کښې پینځهٔ نـمونځونه فرض دي او پهٔ وخت باندې ادا کول فرض دي، د هر نـمونځ د پاره بیل وخت مقرر دے، پهٔ هُغه وخت کښې دننه ادا کول فرض دي، د جَمعې سره نـمونځ واجب دے، (1) نـمونځ قضا کول حرام او دوزخ ته بوتلونکے کار دے، (2) د شرعي مجبورئ نه بغیر جَمعه پرېښودل واجب پرېښودل، ناجائزه او ګناه ده- (3)

| | |
|---|---|
| ہو گیا تجھ سے خدا ناراض اگر | قبر سن لے آگ سے جائیگی بھر |
| عمر میں چھوٹی ہے گر کوئی نماز | جلد ادا کرلے تُو آغفلت سے باز(4) |

## د تکبیرِ اُولیٰ فضائل

**پهٔ حدیثِ پاک کښې دي:** څوک چې د الله پاک د پاره 40 ورځې د تکبیر اولیٰ سره د

---

1... مفتئِ دعوتِ اسلامی، صفحه:۔

2... مفتئِ دعوتِ اسلامی، صفحه:۔

3... مفتئِ دعوتِ اسلامی، صفحه:۔

4... وسائلِ بخشش، صفحه۔

جَمعي سره نـمونځ وکړي، د هغهٔ د پاره دوه ازادئ لیکلے شي: یوه ازادي د وور (یعني د دوزخ) نه او بَله ازادي د نفاق نه- (1)

الله پاک دې مونږ ته د جَمعي سره د نـمونځ کولو توفیق راعطا کړي، کاش چې ټول نـمونځونه د تکبیرِ اُولیٰ سره ادا کول رانصیب شي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## (4): مفتي فاروق او پهٔ دِيني کارونو کښې رغبت

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د دعوتِ اِسلامي د مفتي فاروق صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه یو بَل ډیر ښکلے صفت دے چې هغوئي به د نیکئ د دعوت ورکولو ډیر شوق لرلو، 12 دِيني کارونه به يــې هم ډیر پهٔ شوق او ذوق سره کول- د هغوئي د تنظیمي ذِمه دار بیان دے چې مفتي محمد فاروق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې پهٔ کومو ورځو کښې وارډ نګران وو د هغوئي کارکردګي پهٔ تنظیمي کارونو کښې هم د نورو ټولو نه بهتره وه- د هغوئي د کارکردګئ فارم به بغیر د غوښتو د ټولو نه وړاندې میلاویدو-

د هغوئي د علاقې یو اِسلامي ورور وائي چې ❀ د دعوتِ اِسلامي د مفتي حاجي محمد فاروق عطاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ پوهه کولو ډیر اِسلامي وروڼه نـمونځ ګزاره جوړ شوي وو، ګیرې يــې پریښودې وې او دِيني ماحول ته راغلي وو- ❀ هغوئي به پرله پسې خلق د سحر د نـمونځ د پاره راپاڅول ❀ پهٔ علاقائی دورہ برائے نیکی کی دعوت کښې به يــې شرکت کولو

---

[1]... ترمذی، بابُ: الصّلوٰۃ، صفحه:78، حدیث:241ـ

❁ مدرسةُ الـمدينه برائے بالغان کښې به يې سبق ښودلو ❁ يو ځل زمونږ په مخکښې د مينځني سندھ نه راغلي د 50 نه تر 60 پورې غير مسلمه د هغوئي په لاس مسلمانان شول ❁ د هغوئي په ترغيب باندې ډيرو اِسلامي ورونړو خپل بچي حافظِ قرآن کړل ❁ هغوئي ډير د ښو اخلاقو مالک وو- (1)

سُبْحٰنَ الله! کاش چې زمونږه هم داسې جذبه نصيب شي، نيکۍ هم کوو، نورو له د نيکو کولو دعوت هم ورکوو، په 12 ديني کارونو کښې هم ښه پوره برخه اخلو ❁ د سحر نـمونځ پخپله هم د جَمعې سره ادا کوو، نور هم د سحر د نـمونځ د پاره راپاځوو ❁ علاقائي دوره کوو ❁ درس ورکوو يا اورو ❁ د عاشقانِ رسول سره د مَدَني قافلو مسافر جوړيږو، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ژوند به مو روښانه شي-

## د نيکۍ دعوت ورکول د هر مسلمان بنيادي ذمه واري ده

هسې هم د نيکۍ دعوت ورکول، د ګناه نه منع کول د هر مسلمان په بنيادي ذمه وارو کښې يوه اهمه ذمه واري ده- په قرآنِ کريم کښې په 10 سيپاره، سُورهٔ تَوبَه کښې په يو ځائے کښې الله پاک د منافقانو او ايمان والؤ بيل بيل اوصاف بيان کړي دي، د منافقانو په باره کښې يې ووفرمائيل:

| | |
|---|---|
| يَأْمُرُوْنَ بِالْمُنْكَرِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمَعْرُوْفِ (پاره:10، سورهٔ توبه:67) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: د بدۍ حُکم ورکوي او د نيکۍ نه منع کول کوي- |

---

[1]... ترمذی، باب: الصّلوٰة، صفحه:78، حديث:241۔

يعنې د منافقانو کار دا دے چې دوئي د ګناه حکم ورکوي او د نيکۍ نه منع کوي- د عاشقانِ رسول مسلمانانو د صفت بيانولو سره الله پاک ووفرمائيل:

| | |
|---|---|
| وَالْمُؤْمِنُوْنَ وَالْمُؤْمِنٰتُ بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ يَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ<br>(پاره:10، سورۀ توبه:71) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او مسلمانان سړي او مسلمانې ښځې د يو بل رفيق دي، د نيکۍ حُکم کوي او د بدۍ نه منع کوي- |

يعنې مسلمانان نارينه او مسلمانې زنانه په خپل مينځ کښې ورونه خوئيندې دي، نارينه د نارينؤ سره او زنانه د زنانؤ سره د الله پاک د رضا د پاره محبت کوي او د مسلمانانو دا اعلیٰ صفت دے چې دوئي په خپل مينځ کښې يو بَل له د نيکۍ دعوت ورکوي او د ګناه نه منع کوي-

آه! اَفسوس--!! چې اوس زمونږه حالات ډير خراب شوي دي، خلق په ګناه کولو او د ګناهونو په ترغيب ورکولو کښې بالکل شرم نه محسوسوي، د بے حيايۍ کارونو له د فيشن او جِدَّت نوم ورکوي او د دې د اختيارولو د پاره بے ويرې يو بل له ترغيب ورکوي، تر دې پورې چې مور پلار د خپل اولاد د دِين نه په لرې کيدو، ماډرن او ازاد خياله جوړيدو خوشحاليږي، ډاډګيرنه هم ورکوي خو افسوس چې د نيکۍ په دعوت ورکولو عموماً ډير مسلمانان شرميږي-

افسوس چې اوس خلقو د حقيقي مسلمانانو والا کارونه پريښودي دي! ښه او د نيکۍ

کار چې کوي نو شرم ورله ورځي او د منافقانو والا کارونو کېږي بالکل شرم او ويره نه محسوسوي- الله پاک دې زمونږه په حال باندې رحم وکړي- (1) يوه ورځ سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ووفرمائيل: هغه وخت به ستاسو څۀ حال وي چې کله تاسو د ګناه حکم ورکوئ او د نيکۍ نه منع کوئ؟ صحابۀ کرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم عرض وکړو: يا رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! آيا داسې به کېږي؟ اوئې فرمائيل: آؤ! په هغه ذات باندې مې دې قَسم وي د چا په قبضه کښې چې زما ځان دے، د دې نه به هم بد حال وي- الله پاک فرمائي: زما دې په خپل ذات باندې قَسم وي! زۀ به (هغه وخت) په هغوئي باندې داسې فِتنه مقرر کړم چې په هغې کښې به پوهه خلق هم حيران پاتې شي- (2)

| | |
|---|---|
| مسلماں آہ! غافل ہو گئے نیکی کی دعوت سے | بڑھا جاتا ہے ہائے! زورِ باطل یارسولَ اللہ! |

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** مونږ ته په احتياط سره تلل پکار دي! زمونږه په معاشره کښې ګناهونه دومره ولې عام شوي دي؟ جوماتونه وران او د ګناهونو اډې ولې ابادې دي؟ ځکه چې د ګناهونو ترغيب عام دے، د سوشل ميډيا (***Social Media***)، اِنټرنيټ، ټي وي چينلو، اخبارونو (***News Papers***) او پته نه لګي چې په کومو کومو طريقو ګناهونه هم خورېږي او د دې ترغيب هم عام ورکولے شي، د دې په ځائے که چرې مونږ د نيکۍ دعوت عام کړو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د ګناهونو سيلاب به ودرېږي، کاش چې هر مسلمان د خپلې بنيادي ذمه وارۍ نه ځان خبر کړي، مونږ چې

---

1… تفسير صراط الجنان، پاره:10، سورۂ توبه، تحت الآية:67، جلد:4، صفحه:171 172 ملخصاً-

2… موسوعة امام ابن ابي الدنيا، جلد:2، صفحه:202، حديث:31 -

چرته هم يو چې پۀ حکمت سره، د خپل طاقت او اختيار مطابق د نيکئ دعوت ورکوو- الله پاک دې مونږ ته توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

سُنّتوں کی کروں خوب خدمت | ہر کسی کو دوں نیکی کی دعوت
نیک میں بھی بنوں اِلتجا ہے | یاخدا! تجھ سے میری دُعا ہے [1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## پۀ 30 جولائي د دوستئ عالمي ورځ

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! مونږه واوريدل چې مفتي فاروق صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خومره ❀ نيک ❀ پرهيزګاره ❀ تِلاوت کوونکے ❀ عِلمِ دِين زده کوونکے ❀ نيکئ کوونکے ❀ د نيکئ دعوت ورکوونکے ❀ د ښو اخلاقو مالِک ❀ د ښه کردار مالِک وو- که ميلاويږي نو داسې خلق دوستان جوړول پکار دي، د داسې خلقو سره اوسيدل پکار دي، خپله ناسته پاسته د داسې خلقو سره پکار ده د پاره د دې چې زمونږه د کردار هم اِصلاح وشي، زمونږه عادتونه هم ښه شي، اوس 30 جولائي راتلونکې ده، پۀ 30 جولائي ***International Day of Friendship*** (د دوستئ عالمي ورځ) نمانځلے کيږي- پۀ دې موقع باندې بلکې هر وخت پکار دي چې مونږ د خپلو

---

[1] ... وسائل بخشش، صفحه: 139۔

دوستانو جائزه واخلو، سوچ وکړو چې آیا مونږه د ښو دوستانو سره کښېنو پاڅو یا د خرابو دوستانو سره دوستي کوو- زمونږه د اخلاقو، کردار، عادتونو خرابیدو د ټولو نه غټه وجه خرابې دوستانې وي- لهٰذا د خرابو دوستانو نه بچ کیدل پکار دي-

## انسان د خپل دوست په دِین باندې وي

د **ترمذي شریف** حدیثِ پاک دے، د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: اَلرَّجُلُ عَلٰى دِيْنِ خَلِيْلِهٖ، فَلْيَنْظُرْ اَحَدُكُمْ مَنْ يُّخَالِلُ انسان د خپل دوست په دِین باندې وي، لهٰذا په تاسو کښې هر یو له پکار دي چې هغهٔ وګوري چې د چا سره دوستي کوي- [1] یعني عموماً انسان د خپل دوست سیرت او اخلاق اختیاروي، کله نا کله د هغهٔ مذهب هم اختیار کړي، لهٰذا د ښو خلقو سره دوستي کوئ د پاره د دې چې تاسو هم ښه جوړ شئ! او د چا سره د دوستۍ کولو نه مخکښې د هغهٔ ښه کره کتنه وکړئ چې د الله او د رسول فرمانبردار دے که نهٔ- **صوفیائے کرام فرمائي**: د انسان په طبیعت کښې د اَخذ یعني اخستو خاصیت دے، د حرص کوونکي د صحبت نه به حرص او د زاهد د صحبت نه به زُهد او تقویٰ میلاویږي (لهٰذا هر یو له پکار دي چې د چا د دوست جوړولو نه مخکښې ښه ډیر غور او فِکر وکړي، ښه کره کتنه وکړي چې زهٔ څوک دوست جوړووم)- [2]

## اے الله پاکه! زما دوستان نیکان جوړ کړې!

شیخُ المَشَائِخ، حُضُور داتا ګنج بخش علي هجویري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خپل د زمانې په

---

[1]... ترمذی، کتاب الزہد، صفحہ:566، حدیث:2378۔

[2]... مرآۃ المناجیح، جلد:6، صفحہ:599 بتغیر قلیل۔

مشهور کتاب كَشفُ المَحجُوب کښې ليکي: يو كَس د کعبے شريفې طواف کولو، په هٰغه وخت کښې د هغهٔ په خُله باندې صرف هم يوه دُعا وه: اَللّٰهُمَّ اَصۡلِحۡ اِخۡوَانِیۡ اے الله پاکه! **زما دوستان نيکان جوړ کړې**- چا ترينه پوښتنه وکړه چې په دې ځائے کښې تهٔ د ځان د پاره دُعا ولې نه کوې؟ صرف د دوستانو د پاره ولې دُعا کوې؟ هٰغه كَس ډير د کمال جواب ورکړو او اوئې وئيل: زهٔ (دلته په مکه مکرمه کښې خو په نيکو کارونو کښې مصروف يم خو ډير زر به زهٔ) واپس د خپلو دوستانو خوا له ځم، که هغوئي نيکان وو نو زهٔ به نيک جوړ شم او که هغوئي خراب وو نو د هغوئي خرابي به تر ما پورې هم رارسي، ځکه زهٔ د خپلو دوستانو د پاره دُعا کووم-[1]

بنادے مجھے نیک نیکوں کا صَدقہ | گناہوں سے ہر دم بچا یاالٰہی!
مرا ہر عمل بس ترے واسطے ہو | کر اِخلاص ایسا عطا یاالٰہی! (2)

## د دوستئ آداب زده کول ضروري دي

حُضُور داتا گنج بخش علي هجويري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: د نفس عادت دے چې د خپلو ملګرو نه راحت بياموي، د کوم قِسمه خلقو په صحبت کښې چې کښيني، هم د هغوئي عادت اختياروي، ځکه مشائِخ (يعني اوليائے کرام) د ټولو نه مخکښې د دوستئ حقونو ته توجُّه کوي او مُريدانو له د دې ترغيب ورکوي، تر دې پورې چې د مشائخو په نزد د دوستئ آداب زده کول او په هغې باندې عمل کول د فرضو درجه لري-[3]

---

[1]…کشف المحجوب، مترجم، صفحه:499 بتغیر۔

[2]…وسائل بخشش، صفحه:105۔

[3]…کشف المحجوب مترجم، صفحه: 499 بتغیر۔

# د یرقان روحاني علاج

خورو او محترمو اِسلامي ورونړو! په 28 جولائي **World Hepatitis Day** (د یرقان عالمي ورځ) نمانځلے کیږي، هیپاټائیټس (یعني یرقان) د ځیګر بیماري ده، الله پاک دې مونږ د دې نه محفوظ کړي، خطرناک مرض وي، د مرګ سبب هم جوړیږي، خدائے دې نه کړي که داسې مسئله وي نو ډاکټر له تلل پکار دي، زۀ تاسو ته د یرقان یو روحاني علاج دربنایم، په دې باندې عمل وکړئ! که مرض وي نو ختم به شي، که نه وي نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! د دې نه به حفاظت کیږي۔

د بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم سره سورۀ قریش یو ځل (په اوّل او په آخر کښې 11 کرته دُرُود شریف) [پخپله] ولولئ (یا یـې په بل چا باندې ولولئ) په آبِ زم زم شریف یا په ھغه اوبو کښې په کومو کښې چې د آبِ زم زم شریف یو څو څاڅکي شامل وي دَم کړئ او روزانه یـې سحر، غرمه او ماښام وڅښئ۔ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! په 40 ورځو کښې دننه به درته شِفا درنصیب شي۔ (صرف یو ځل دَم کړے شوې اوبه کافي دي، د ضرورت مطابق پکښې نورې اوبه وراچوئ) (1)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## په 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: علاقائي دوره

✿ د حدیثِ پاک خلاصه ده: په کومه ښپۀ باندې چې د الله پاک په لاره کښې دوره پریوځي، هغې ته به د دوزخ وور نه ورنزدې کیږي (2) ✿ د نیکۍ د دعوت ورکولو، د

---

[1]… بیمار عابد، ص 60۔

[2]… مسند امام احمد، جلد:6، صفحه:507، حدیث:16356۔

ګناه نه د منع کولو د پاره د کور نه وتل هم د الله پاک په لار کښې وتل دي ❀ زمونږه خوږ آقا او مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د نیکۍ دعوت ورکولو د پاره بازارونو ته تشریف وړلو ❀ مختلفو قبائلو ته به تللو او د نیکۍ دعوت به یې ورکولو- د دعوتِ اِسلامي والا عاشقانِ رسول هم د دې ښکلې ادا د ادا کولو کوشش کوي ❀ کور کور، دُکان ته د تللو سره د نیکۍ دعوت ورکولے شي ❀ خلقو ته جومات ته د راتللو دعوت ورکولے شي ❀ د نـمونځونو ترغیب ورکولے شي ❀ مونږ دې ته علاقائي دوره وایـو- **تاسو هم د عاشقانِ رسول سره په شریکه علاقائي دوره کوئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم!**

❀ د انبیائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام په سُنَّت باندې به مو د عمل کولو سعادت نصیب کیږي ❀ د نیکۍ د دعوت عام کولو ثواب به مو کیږي ❀ د حدیثِ پاک مطابق د نیکۍ لار ښودونکے د نیکۍ کوونکي په شان دے [(1)] ❀ که زمونږ د نیکۍ په دعوت یو کَس هم نیک نـمونځ ګزاره جوړ شو نو یقین وکړئ چې مزې به مو شي-

**صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب!  صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## د نـمونځونو د وختونو (Prayer Times) د ایپ تعارف

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د دعوتِ اِسلامي آئي ټي ډیپارټمنټ یو ډیر ښکلے موبائل ایپلي کیشن د نـمونځونو د وختونو ***(Prayer Times)*** په نوم جاري کړے دے ❀ د دې ایپلي کیشن په ذریعه په ټوله دنیا کښې د هر ځائے وختونه او د قبلې اړخ معلومیدے شي ❀ د جَمعې په وخت د موبائل آټو سائلنټ کولو آپشن هم موجود دے ❀ د دې نه علاوه د قرآنِ پاک د عربۍ متن او د ترجمے او تفسیر سره د لوستلو او اوریدو سهولت موجود دے ❀ اذکار (روحاني علاج) هم ورکړے شوي دي ❀ د کاؤنټر

[1]… ترمذی، صفحه:628، حدیث:2670 ملتقطاً۔

تسبیح پۀ ذریعه تاسو خپل روزانه اوراد لوستلے شئ ❀ د دې ایپلي کیشن پۀ ذریعه تاسو ریډیو مَدَني چینل اوریدے شئ ❀ د نـمونځ اذکار هم د تجوید سره شامل کړے شوي دي ❀ د عیسوي او اِسلامي کلینډر سهولت هم موجود دے۔ ❀ د دې نه علاوه تاسو د دې ایپلي کیشن ډیش بورډ پۀ 2 کلر تهیم کښې هم استعمالولے شئ۔ پۀ خپل موبائل کښې دا ایپلي کیشن انسټال کړئ او نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ۔

## صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## یو څو ضروري اِعلانات

❀ د هر خالي پۀ ورځ **امیرِ اهلِسُنَّت** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه **پۀ مَدَني چینل لائیو هفته واره مَدَني مذاکره** کوي، د راتلونکې هفتې پۀ ورځ به هم د ماسخوتن د نـمانځه نه پس پۀ مَدَني چینل باندې اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِیْم! هفته واره مَدَني مذاکره کیږي، پۀ کومه کښې چې به شیخ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت مولانا الیاس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي۔ ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول پۀ دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړئ او نورو له دې هم دعوت ورکړئ ❀ شیخ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه هره هفته د یوې دِیني رسالې د لوستو اعلان کوي، پۀ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د رساله **د نیکۍ دعوت او نرمي** اعلان کولے شي۔ دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ او څوک چې سوشل میډیا مثلاً واټس ایپ وغیره استعمالوي هغوئي دې د الله پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شیئر (**Share**) کړي! ❀ د الله پاک بعضې بندګان داسې وي څوک چې پۀ خپل مختصر ژوند کښې داسې عجیبه کارونه وکړي چې خلق ورته ګوته پۀ خُله پاتې شي، الله پاک دې بندګانو ته خاص صلاحیتونه عطا کړي وي، پۀ دې کښې یو شخصیت مفتئ دعوتِ اِسلامي

مفتي محمد فاروق صاحب هم وو چا چې پۀ خپل مختصر شان ژوند کښې ډېر عظيم کارونه وکړل د کومو چې مثال نشته، پۀ دې کښې يو څو کارونه پۀ يو کتاب مفتئ دعوتِ اِسلامي کښې ليکلے شوي دي۔ دا کتاب تاسو پۀ 75 روپۍ د مکتبة المدينه د يوې څانګې نه پۀ بيعه واخلئ۔ پخپله يې هم ولولئ! او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ!

## صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د اوبو څښلو سُنَّت او آداب

د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د اوښ پۀ شان پۀ يوه ساه کښې مۀ څښئ بلکې دوه يا درې ځل (د ساه ګانو اخستو سره) څښئ او د څښلو نه مخکښې بِسْمِ الله لولئ او پۀ فارغيدو اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ لولئ!۔ (1)

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! که اوبه وي او که د څښلو څۀ بل څيز ❀ د څښلو نه مخکښې بِسمِ الله لولئ ❀ وړوکے وړوکے ګوټ کوئ، د غټ ګوټ کولو سره د ځيګر (Liver) بيماري پيدا کيږي ❀ اوبه پۀ دريو ساه ګانو کښې څښئ او پۀ ښي لاس سره يې څښئ ❀ که پۀ لوټه وغيره مو اودس کړے وي نو د هغې نه د پاتې شوو اوبو پۀ څښلو کښې د 70 مرضونو شِفا ده چې دا د آبِ زم زم شريف مشابهت لري، د دې دوؤ (يعني د اودس نه د پاتې شوو اوبو او د زم زم شريف) نه علاوه هرې اوبه پۀ ولاړه څښل مکروه عمل دے، دا دواړه قِسمه اوبه قبلې طرف ته د مخ کولو سره پۀ ولاړه څښئ ❀ د څښلو نه مخکښې يې ښه وګورئ چې د څښلو پۀ څيز کښې څۀ ضرر رسوونکے څيز خو نشته ❀ د څښلو، څَکې کولو نه پس اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ لولئ ❀ امام محمد بن محمد غزالي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: د بِسْمِ الله وئيلو سره پۀ اوبو څښلو شروع کوئ، د

---

1… ترمذی، کتاب الاشربة، صفحه:464، حديث:1885۔

ورومبئ ساه پۀ آخِره کښې اَلْحَمْدُ لِلّٰهِد دويمې نه پس اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْن او د دريمې ساه نه پس اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيم لولئ- دا يو ښه کار دے، که ونکړے شو نو هم پکښې څۀ باک نشته او پۀ شروع کښې د بِسْمِ اللّٰه وئيلو او پۀ اَلْحَمْدُلِلّٰهِسره پۀ ختمولو به هم سُنَّت ادا شي ❀ پۀ ګلاس کښې پاتې شوې د مسلمان پاکې جوټه اوبه د استعمال قابل کيدو باوجود هسې نه دي توئي کول پکار ❀ منقول دي: سُؤْرَةُ الْمُؤْمِنِ شِفَاءٌ يعنې د مسلمان پۀ جوټه کښې شِفا ده ❀ د ښنبلو د يو څو سعتونو نه پس چې خالي ګلاس ته وګورئ نو د هغې د اړخونو نه به يو څو څاڅکي پۀ بيخ کښې جمع شوي وي، هغه هم ښنبل پکار دي- (1)

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدينه د بهارِ شريعت جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله 550 سنتيں اور آداب واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اِسلامي پۀ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے-

آؤ مدنی قافلے میں ہم کریں مل کر سفر | سنتیں سیکھیں گے اِس میں ان شاءاللہ سربسر
مجھ کو جذبہ دے سفر کرتا رہوں پَروَردگار | سنتوں کی تربیت کے قافلے میں بار بار (2)

اللّٰه پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1... 550 سنتیں اور آداب، صفحہ:16۔

2... وسائل بخشش، صفحہ:635۔